# بُست

## علمي او څېړنیزه مجله

| کال | ګڼه | ټوک |
|---|---|---|
| ۱۴۰۲ | دوهمه | دوهم |

# BOST UNIVERSITY
# IN SOCIAL MEDIA

**FACEBOOK**

@bostuniversity

**TWITTER**

@bostuniversity

**INSTAGRAM**

@universitybost

**YOUTUBE**

@bostuniversity

**LINKEDIN**

@bostuniversity

**WEBSITE**

www.bost.edu.af

**EMAIL ADDRESS**

info@bost.edu.af

research@bost.edu.af

**PHONE NUMBER**

034 200 0008

0702 300 728

بسم الله الرحمن الرحيم

# بُست علمي او څېړنيزه مجله


**بُست پوهنتون**

**دوهم ټوک – دوهمه ګڼه**

**کال – ۱۴۰۲**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله

# بُست پوهنتون

**د امتیاز خاوند:** بُست پوهنتون

**مسؤل مدیر:** پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصري

**کتنپلاوی:**

- ⇐ پوهندوی رضوان الله مملوال
- ⇐ پوهنمل عبدالعزیز صابر
- ⇐ پوهنمل عبدالولي هجران
- ⇐ پوهنمل حنیف الله باوري
- ⇐ پوهنیار عبدالولی همت
- ⇐ پوهنیار بشیر احمد بابا زوی
- ⇐ خان محمد وفا
- ⇐ ډاکټر ذبیح الله انوری
- ⇐ پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش
- ⇐ پوهنوال دوکتور خال محمد احمدزی
- ⇐ پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي
- ⇐ پوهندوی دوکتور علی احمد
- ⇐ پوهنمل دوکتور عبدالوهاب حکمت
- ⇐ پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصري
- ⇐ پوهندوی نیاز محمد زاهدي

**ډیزاین:** د بُست پوهنتون دخپرنیزو او فرهنگي چارو مدیریت

د خپرولو کال: ۱۴۰۲

درک: بُست پوهنتون ، لښکرگاه ،هلمند ، افغانستان

## د بُست پوهنتون د رئیس پیغام

په نني ژوند کې د یوې علمي مؤسسې یو له مسؤلیتونو څخه دا دی ، چې نه یواځې خپل محصلان د پوهې په گانه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زیرمتون څخه داسي څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولني د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره او یا لږ تر لږه د ټولنې د لوستي قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډگر کې د گټې اخیستنې په موخه ، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسیدلو لپاره پوهنتون باید یو داسې علمي خپرندویه ارگان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحیته منسوبین که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه یال ، خپلې علمي او څېړنیزي مقالې او لیکنې د کاغذ پر مخ باندې کښیښنودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې یې ښکاري، باید داسي مسائل را برسیره شي، چې نه یواځې په پوهنتون پورې راگیر پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغاني ټولنې او په ځانکړي ډول سره د هلمند ولایت د اوسیدونکو و نني او سبا ژوند ته په کتلو سره، بریالیتونونه، ستونزې ، وړاندیزونه او د حل لارې-چارې ، وړاندې کړل شي.هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله یواځې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولایت ، آن د سیمي او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څېړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم ، د پاملرنې وړ او ځوان نسل ته د یوې سمې لارې د ښودلو په موخه ، یوه محبوبه او پر زیاتو خلکو باندې گرانه مجله وي او په ټول هیواد کې به خپل مینه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو ، محصلانو ، فارغانو او ټولو مینه د علمي او څېړنیزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډگر کې چې وي، یو خپرنیز ارگان وي،چې و خپریدلو ته به یې ټول مینه وال په تمه ناست وي.څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تیره بیا د بست پوهنتون محترم استادان ، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څېړنیزو مقالو و لیکلو ته و هڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبینو په استازیتوب ویاړ لرم ، چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې د خپریدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستیال او د څیړنې له محترم آمر او همدا رنگه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زیار او زحمت په گاللو سره چې مجله یې و خپریدلو ته چمتو کړې ده ، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وایم او هیله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخری تحلیل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټینگ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډیپلوم انجنیر محمود سنگین**

**د بُست پوهنتون رئیس**

## سریزه

بُست پوهنتون ویاړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې یې یو بل ډیر مهم او اړین ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څیړنیزي مجلې د دوهم ټوک، دوهمي ګڼې خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مینه والو ته د بُست د علمي او څیړنیزي مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتیبولو او خپرولو کې یې نه ستړې کېدونکې ونډه اخیستې ده د زړه له کومې مننه کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده او پوره باور لري چې د نننی نړۍ هر اړخیزه پر مختګ د پوهانو د علمي څیړنو د زیار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسي، اکادمیک انستیتوتونه او څیړنیز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پریکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډمیکو نورمونو په رعایت د تدریس، علمیڅیړنو او نوښتونو له لاري مسلکي کادرونه وروزي او د معیاري تحصیلي اسانتیاوو او زمینو په برابرولو سره د ټولنې ځوانانو ته معیاري او لوړ کیفیت لوړې زده کړي وړاندی او د علمیڅیړنو پر بنسټ د کره پوهنیزو اثارو د تولید زمینه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټورو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتینو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هیواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتیني خدمت جوګه شي.

ژمن یو چې د هلمند ولایت، ګاونډیو ولایتونو او په ټول هیواد کې ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کې معیاري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څیړونو زمینه برابره او ټولني او هیواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څیړنیزه مجله یوازي د **سائینسي علومو** په برخه کې علمي او څیړنیزي مقالي او لیکني د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هیله مند یو چې په راتلونکې کي به نوري برخي هم ور زیاتي کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشأالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلي علمي څیړنیزي مجلې د خپرولو له لاری خپل دغه دروند خو ویاړلی دین (پور) ادأ کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهې څښتنانو او مینه والو ته په مینه سره بلنه ورکوو چې ددی علمي او څیړنیزي مجلي او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کي خپلې علمي او څیړنیزي لیکني، آندونه، وړاندیزونه او رغنده نیوکي او مرستي د تل په شان راولوروی او د علم ددي ستر کور په ودانولو کي د خپلې دیني، او ملي برخي د ادایني ویاړ راوبخښی.

موږ هوډ کړیدي او هیله مند یو چې انشآ الله د وخت په تیریدو سره به د خپل هیواد و بچیانو او ځوان نسل ته د تدریس ، ښه روزني او څیړنیز هاند لپاره اړیني او د پام وړاسانتیاوي برابري کړو تر څو په لومړي پړاو کښې خپلو هلمندوالو بیا د سهیل لویدیځي حوزي او په پاي کښي و ټولو هیوادوالو ته د یو داسي چوپړ مصدر وګرځي چي زموږ د ځوریدلي اولس او ویجاړشوي هیواد اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او ټولنیزي ستونزي حل او افغانستان د نړي د پرمختللوهیوادونو په لیکه کي ودریږي.

# لړلیک

| د مقالې عنوان | د صفحې شمیره |
| --- | --- |


د نباتي حشره وژونکو پېژندنه ---------------------------------------- 1

پوهنمل عبدالحميد نظري

د هلمند ولایت لښکرگاه ولسوالۍ په دوو کلیو بولان او بشران کې د تورو ماشو د تولید، لگښت او گټورتوب څېړنه 8

پوهندوی دوکتور علي احمد، پوهندوی نقیب الله مجددي، پوهنیار محمد هاشم پوپل، میرویس نظری

پر کرهڼه باندې د اقلیمي تغیراتو اغېزې ---------------------------------------- 22

انجنیر محمدالدین خادم، پوهنیار محمدهاشم پوپل، پوهنیار محمدآمان احمدزی

د هلمند ولایت حجارۍ او نجارۍ فابریکې اقتصادي ارزښت، ستونزې او د SWOT تحلیل څېړنه ------ 30

پوهندوی دوکتور علي احمد، پوهندوی نقیب الله مجددي، ارسلان وطندار

د حکومت په مالي او عایداتي جوړښت کې د سیگټاس اغېزې ---------------------------------------- 41

ارسلان وطندار، پوهندوی دوکتور علي احمد، احمد لطیف

د هلمند ولایت نادعلی ولسوالی کی د جوارو تولید اقتصادی ارزښت څیړنه ---------------------------------------- 50

پوهنیار بریالی رفیع، پوهندوی دوکتور علی احمد، پوهنیار زمریالی تنی، امان الله نیازی

د زرغون انقلاب په راوستلو کې د دولت او مسلکي خلکو رول ---------------------------------------- 62

پوهنمل محمدیار ملکزی، پوهنمل عبدالحمید نظري، پوهنیار محمدهاشم پوپل

د غنمو په تولید کې د فاسفورس رول ته کتنه ---------------------------------------- 74

پوهنیار محمدهاشم پوپل، انجینر محمدالدین خادم

د غنمو په تولید کې د غذایي موادو رول، کمښت او زهریت ته کتنه ---------------------------------------- 84

پوهنیار زمریالی تنی

د غوښینو چرگانو په فارمونو کې د واکسین د ناکامی د عواملو څېړل ---------------------------------------- 98

پوهنیار عبد الولي همت

د کار موندنې د پراختیا لپاره نویو مهارتونه ته کتنه ---------------------------------------- 105

پوهنوال ډاکټر خال محمد احمدزی، پوهندوی ډاکټر علی احمد

# د هلمند ولایت حجارۍ او نجارۍ فابريکې اقتصادي ارزښت، ستونزي او د SWOT تحلیل څېړنه

پوهندوی دوکتور علي احمد*[1]، پوهندوی نقیب الله مجددي[2]، ارسلان وطندار[3]

[1]کرنیز اقتصاد او ترویج څانگه، کرهني پوهنځی، هلمند پوهنتون

[2]باغداري څانگه، کرهنې پوهنځی، انستو پوهنتون کندهار

[3]اداره او تشبثات څانگه، اقتصاد پوهنځی، بُست پوهنتون

د مسؤل ایمیل آدرس: aada.aliahmad@gmail.com

## لنډیز

دا څېړنه په هلمند کي د حجارۍ او نجارۍ فابريکې پر اقتصادي ارزښت باندي تر سره سوې ده، چې د څېړني مالومات د ۱۳۹۸، ۱۳۹۹ او ۱۴۰۰ هـ ش کلونو پر اساس راټول سوي دي او د همدې څېړني لومړني مالومات د حجارۍ او نجارۍ د مالي او اداري شعبې څخه تر لاسه سوي دي. د څېړني عمده موخه د حجارۍ او نجارۍ عواید او مصارف، د حجارۍ او نجارۍ سواټ تحلیل او د دې تصدۍ اقتصادي ارزښت روښانه کول، څېړنه ښیي چي د حجارۍ او نجارۍ تصدي په ۱۳۴۱ کال کي د محمد ظاهر شاه په پاچاهۍ کښې د امریکا د متحده ایالاتو په مالي مرسته جوړه شوه چې ٪ 51 خصوصي او ٪ 49 د دولت په سهم او سرمایه باندي کار کوي. حجاري او نجاري ٪۵۰ عواید د متفرقه عوایدو څخه، ٪۲۵ د فرنیچر او ٪۲۵ د ډبرینو توکو د پلور څخه تر لاسه کوي. نوموړې څېړنه ښیي چې په ۱۳۹۸ کال کې د حجارۍ او نجارۍ ټول عایدات ۱۴۳۲۹۱۲۹ میلیونه او لگښت ۱۳۸۰۱۴۲۹ میلیونه افغانۍ وو چې خالصه گټه په دې کال کې ۵۲۷۷۰۰ زره افغانۍ دی. په ۱۳۹۹ کال کي عایدات ۹۵۳۱۰۱۳ میلیونه او لگښت یې ۸۹۲۱۱۳۶ میلیونه وو چې خالصه گټه په دې کال کي ۶۰۹۸۷۷ زره افغانۍ ته رسیږي، په ۱۴۰۰ کال کې عایدات ۱۰۲۳۰۴۲۲، لگښت ۱۰۰۳۳۲۳۸ میلیونه او خالصه گټه په دې کال کې ۱۹۷۱۸۴ زره افغانۍ دي. د دې څېړني موندني دا بیانوي چي د تصدۍ ٪۵۰ قوي نقطه خامو موادو ته پوره لاسرسی ٪۲۵ قوي نقطه په لوړ کیفیت تولید او ٪۲۵ قوي نقطه د مسلکي کارمندانو درلودل دي. ٪۳۰کمزوري نقطه داخلي بازار نه درلودل ٪۳۰کمزورې نقطه بهرني بازار ته نه لاسرسی او همدا راز ٪۲۰کمزورې نقطه یوازي د لوکسو توکو تولید او ٪۲۰ کمزورې نقطه کندهار تراش او نورو وطني لرگیو ته نه لارسی دی. د دې فابريکې لپاره ٪۲۵ فرصت په کم مصرف د کارمندان گمارل ٪۲۵ د رقابت نشتوالی او ٪۵۰ فرصت طبیعي زیرمو او خامو موادو ته پوره لاسرسی دی، همدارنگه ٪۵۰ نا امني او ٪۵۰ د بریښنا نشتوالی د دې تصدۍ لپاره خنډ دی.

**کلیدي کلمې:** حجارۍ او نجارۍ، لگښت، مجموعي عواید، خالص عواید او خنډونه.

## سريزه

د حجارۍ او نجارۍ تصدي د نن څخه ۷۰ کاله مخکې په ۱۳۴۱ کال کې د محمد ظاهر شاه په پاچاهي کښې د امريکا د متحده ايالاتو په مالي مرسته جوړه سول چې په دې تصدۍ کې په سلګونو کسانو ته د کار زمينه برابر وه، د هلمند اقتصادي جغرافي ته په کتلو سره چې هلمند پريمانه طبيعي زيرمي او ډبري لري لکه روخام، سنګ مرمر او نوري ښکلي ډبري چې په تعميرونو او نورو برخو کې د ښکلا لپاره استعماليږي جوړه کړل تر څو د هلمند او کندهار ډبري په دې تصدۍ کښې تر پروسس ووځي. د روخام د ډبري څخه چې د دې ولايت د خانشن ولسوالۍ څخه راوړل کيږي زينتي لوښي، چوکۍ، ميزونه، الماري او نور اړين توکي جوړوي. د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ د محمد ظاهر شاه په وخت کې يوه دولتي فابريکه وه خو اوس مهال ٪ 51 خصوصی سکتوره ته ورکړل سوې ده، که څه هم توليدات يې نړيوال بازار نه لري ولي د دې فابريکې توليدات د هيواد په نور ولاياتو کې په خرڅلا رسيږي (همت، ۱۳۹۷). د هلمند حجاري او نجاري تصدۍ په ډېر لوړ معيار توکي توليدوي چې په سيمه کې ځانګړی ارزښت لري خو له بده مرغه چې خامو موادو لکه د چهار تراش لرګي چې په لوګر کې پرېمانه پيدا کيږي لاسرسی نه لري. همدارنګه د هيواد ډبرۍ طبيعي زيرمي چې د هيواد څخه په غير قانوني توګه بهرنيو هيوادونو ته قاچاق کيږي لاسرسی نه لري. د دې تر څنګ د هلمند د حجارۍ او نجارۍ تصدي برق نه لري. چې د يوې تصدۍ لپاره ضرورت اوليه څېز ګڼل کيږي. د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ د ډېرو کلونو څخه په افغانستان کې فعاليت لري، چې په هلمند کې د فرنيچر تر څنګ د ډبرو، سنګ مرمر او نورو څخه مجلل توکي د دفترونو، کورونو، دوکانونو او هوټلونو لپاره جوړوي، چې د هلمند تر څنګ په زياته اندازه نورو ولسواليو او ولايتونو ته هم صادريږي. په هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ ډېر محصولات د نمايش لپاره په کورونو، دفترونو او هوټلونو کې ايښودل کيږي ځکه چې د هلمند روخام ډبره د ډېر ارزښت وړ ده او په ډېر لوړ قيمت يې توکي لکه لوښي او نور تجهيزات پلورل کيږي. په هلمند او ډېرو نورو ولايتون کې د تحفې په ډول ډېر مروج دي (همت، ۱۳۹۷).

**د ستونزی بيان:**

د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ په هلمند کې د ډېرو کلونو څخه فعاليت کوي، چې په هلمند کې لوکس او مجلل توکي توليدوي چې په هلمند کې په زياته اندازه کاري قوه يې مصروفه کړې ده، ستونزه داده چې نوموړې تصدۍ د هيواد د سياسي کړکيچ له وجې وخت په وخت زيانمنه سوې چې په دې څېړنه کې د ۱۳۹۸، ۱۳۹۹ او ۱۴۰۰ کلونو اقتصادي ارزښت ته کتنه سوې او د دې تر څنګ په دې موضوع باندي تر اوسه کومه څېړنه نه ده سوې، نو نوموړې څېړنه به په هلمند ولايت کې د نوموړې شرکت اړوند د (۱۳۹۸- ۱۴۰۰) کلونو کې معلومات وړاندي کړي.

د څېړني اهميت:

توليدي تصدۍ د هر هيواد لپاره حياتي ارزښت لري، په هلمند کې د ګوتو په شمار توليدي تصدۍ سته چې د ډېرو کلونو څخه په هلمند کې فعاليت لري. چې تر اوسه يې پر اقتصادي ارزښت باندي څېړنه نه ده ترسره سوې، په دې څېړنه د حجارۍ او نجارۍ اقتصادي ارزښت تر څېړني لاندي نيول سوی دی، چې د دې څېړني په مرسته کولای سو چې د حجارۍ او نجارۍ د توليد په وړاندي خنډونه، فرصتونه، قوي او کمزوري نقطې وپېژنو. په دې څېړني سره به وکولای سو چې په راتلونکي کې په نورو تحقيقاتي برخو کې استفاده ورڅخه وکړو.

د څېړني موخي:

- ❖ په هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ لګښت او عوايد تحليل کول.
- ❖ په هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ اقتصادي ارزښت روښانه کول.
- ❖ په هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ په وړاندي ستونزي معلومول.
- ❖ په هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ د SWOT تحليل کول.

## مواد او کړنلاره

### الف. د څېړني ځای او وخت

دا څېړنه د هلمند ولايت حجاري او نجارۍ فابريکې اقتصادي ارزښت، ستونزي او د SWOT تحليل تر سرليک لاندي په کال ۱۴۰۰ کې ترسره سوې ده.

### ب. د څېړني ډيزاين

دا يوه کمي او کيفي څېړنه ده، چې په هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ اقتصادي ارزښت د ۱۳۹۸ – ۱۴۰۰ کال پوري تر څېړني لاندي نيول سوی دی. د څېړني لپاره مو ياده فابريکه په قصدي ډول وټاکل او د څېړني مربوط معلومات او ارقام مو د ياد شرکت د مالي مسؤل څخه د پوښتنليک او مرکې په ډول تر لاسه کړل.

## ج. مواد

په دې څېړنه کې د دویمي او لومړني معلوماتو څخه استفاده سوې ده. دویمي معلومات د کتابتونو، انټرنیټي ویبسایټونو، ملي او نړیوالو ژورنالو څخه راټول سوي دي او د دې ترڅنګ لومړني معلومات د یاد شرکت د مالي مسؤل څخه د پوښتنلیک او مرکې په ډول تر لاسه کړل سوي دي.

## د. احصائیوي تحلیل

په دې څېړنه کې راټول سوي اعداد او ارقام د اکسل په پرګرام کې تحلیل سوي دي.

## نتیجه او مناقشه

د حجارۍ او نجارۍ په تصدۍ کې اوسمهال خصوصي پانګونه زیاته سوې، چې په ډېره ښه توګه لوکس توکي بازار ته وړاندي کوي چې ښه مسلکي کسان پکښې ګمارل سوي دي. په هیواد کې داخلي جګړو د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ ډېره زیانمنه کړل چې د خلګو او دولت توجو ورڅخه اوښتې وه او په زیاته اندازه مالي زیانونه یې تېر کړي وه، د جمهوریت په راتګ سره ډېرې دولتي تصدۍ نیمه خصوصي ته تبدیلي سوې چې په دې کښې یوه هم د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ ده، چې اوسمهال ٪۵۱ سهم د خصوصي شرکت او ٪۴۹ سهم د دولت دی (۱ شکل).




**۱ شکل: د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ سهم**

د حجارۍ او نجارۍ فابریکې په زیاته کچه خلک په مستقیم او غیري مستقیم ډول په دندو ګمارلي دي چې تر دې مهاله یې (۳۹) کارکوونکي په مستقیم ډول او (۴۲) کارکوونکي په غیري مستقیم ډول په دندو ګمارلي دي چې دغه پرسونل د مستري خانې، ټرانسپورټیشن، تراش، فرنیچر او نورو برخو کې کار کوي (۲ شکل).




**۲ شکل: د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ د کارکوونکو شمیر**

### د حجارۍ او نجارۍ فابریکې د عوایدو سرچینې:

حجارۍ او نجارۍ تصدۍ په زیاته کچه د کاري فرصتونو ظرفیت لري، خو د ډېرو کلونو څخه دې تصدۍ ته کار نه دی سوی، هلمند د روخام، سنګ مرمر چې په نړۍ کې ډېر زیات شهرت لري او د نړۍ په ډېرو هیوادونو کې استعمالیږي، مشتریان یې زیات دي، خو د حجارۍ او نجارۍ د کمزوري بازارموندني له وجې نه دي توانېدلي چې بهرني بازارونو ته لاره پیدا کړي تر څو خپل خدمات تر دې خلکو پوري ورسوي. په پیل کې حجارۍ او نجارۍ تصدۍ په زیاته اندازه کارکوونکي په دندو ګمارلي وه چې د با ارزښتو ډېرو تختې یې داخلي او خارجي بازارونو ته وړاندي کول چې د دې لارې څخه هر کال په میلیونونو افغانۍ عواید هیواد ته راتلل او له بلې خوا یې بې شمېره کاري فرصتونه ایجاد کړي وه. د حجارۍ او نجارۍ فابریکه د درو سرچینو څخه عواید تر لاسه کوي. فرنیچر، د ډبرینو توکو پلور او متفرقه عواید چې له دې جملې څخه د عوایدو ډېره سلنه د متفرقه عوایدو څخه تر لاسه کوي او د دې عوایدو څخه، فرنیچر (۵۰) سلنه، ډبرین توکي (۲۵) سلنه او نور تجهیزات (۲۵) سلنه عواید ترلاسه کوي (۳ شکل).




**۳ شکل: د عوایدو له مخې د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ تولیدات**

په ۱۳۹۸ کال کې د حجارۍ او نجارۍ عواید ۱۴۳۲۹۱۲۹ افغانۍ ته رسیږي او په ۱۳۹۹ کال کې د دي تصدۍ عواید ۹۵۳۱۰۱۳ افغانۍ ته رسیږي او همدا راز په ۱۴۰۰ کال کې د دي تصدۍ عواید ۱۰۲۳۰۴۲۲ افغانۍ ترلاسه کړي دي. تر ټولو زیات عواید په ۱۳۹۸ کال کې یادي تصدۍ ترلاسه کړي وه، ځکه چې په دي کال کې حجارۍ او نجارۍ ریاست د ډېرو دفترونو او شخصي سکتورونو سره تجارتي اړیکې او قراردادونه د رلودل (۴ شکل).




**۴ شکل: د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ عواید ۱۳۹۸-۱۴۰۰**

**د حجارۍ او نجارۍ فابریکي د ۱۳۹۸-۱۴۰۰ کلونو د عوایدو پرتله:**

د حجارۍ او نجارۍ عواید په لاندې جدول کې ښودل سوي دي.

| اجناس | کال 1398 | کال 1399 | کال 1400 |
|---|---|---|---|
| روخام | 1791141.125 | 1191376.625 | 1278802.75 |
| سنګ مرمر | 1791141.125 | 1191376.625 | 1278802.75 |
| فرنیچر | 3582282.25 | 2382753.25 | 2557605.5 |
| متفرقه عواید | 7164564.5 | 4765506.5 | 5115211 |
| **ټولټال عواید (افغانۍ)** | **14329129** | **9531013** | **10230422** |

**سرچینه: د حجارۍ او نجارۍ فابریکي مالي او اداري شعبه**

د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ عواید په ۱۳۹۸، ۱۳۹۹ او ۱۴۰۰ کلونو کې په ترتیب سره (۱۴۳۲۹۱۲۹)، (۹۵۳۱۰۱۳) او (۱۰۲۳۰۴۲۲) افغانۍ وه، چې له دې جملې څخه په درو کلونو کې ډیر زیات عواید د متفرقه عوایدو څخه تر لاسه سوي دي.

**د حجارۍ او نجارۍ فابریکي لګښتونه:**

حجارۍ او نجارۍ فابریکه په عمومي توګه دوه ډوله لګښتونه لري چې په لاندې ډول سره ښودل سوي دي:

- **ثابت لګښتونه**
- **غیري ثابت لګښتونه**

**۱. ثابت لګښتونه:**

د حجارۍ او نجارۍ ثابت لګښتونه هغه دي چې هره میاشت په ثابت ډول مصارفات وربانديراځي او حجارۍ او نجارۍ يې په ثابت ډول تادیه کوي چې په لاندې ډول سره دي.

- **د کارکوونکو معاشات**
- **د موټرانو کرایه**
- **د مختلفو جوازونو تادیات**

د حجارۍ او نجارۍ په ثابتو لګښتونو کې لوړ لګښت د کارکوونکو معاشات دي چې (۶۰) سلنه جوړوي (۵ شکل)




**۵ شکل: د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ ثابت لګښتونه**

**۲. غیري ثابت لګښتونه:**

غیري ثابت لګښتونه هغه دي چې د یو شرکت په فعالیت پوري اړه لري چې غیر ثابت مصارف په ثابت ډول نه معلومیږي او هر کله لږ او یا ډېر تغیر کوي چې په لاندې ډول سره دی

- **تیل/مبلین**
- **خام مواد**
- **خوراکي لګښتونه**

- **ګاز**
- **د برېښنا لګښت**

غیري ثابت مصارف تصدۍ ته په کتلو سره فرق کوي، د حجارۍ او نجارۍ فابریکه په غیري ثابتو مصارفو کې ډېره سلنه خام مواد جوړوي چې دوی کله د نورو خایونو څخه پرزه جات، رنګ او نور مهم لوازم چې (۵۵) سلنه کېږي، د تصدۍ اړوند مهم فرزه جات (۵) سلنه، د ماشین الاتو ترمیم (۱۰) سلنه، تېل او مبلین (۲۰) سلنه او استهلاک (۱۰) سلنه جوړوي، د حجارۍ او نجارۍ خام مواد د هلمند خپل داخلي دي. د حجارۍ او نجارۍ د فابریکې په غیري ثابتو مصارفو کې ډېر مصارفات شامل دي لکه خوراکه، د ماشین الاتو ترمیم، تېل، د جنراتور مبلین، ترانسپورتیشن، د مبایل کارټ، انترنیټ او داسې نور (٦ شکل).




**٦ شکل: د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ غیري ثابت لګښتونه**

| د ۱۳۹۸ کال لګښتونه | |
|---|---|
| د کارکوونکو معاشات | 3537410 |
| تېل او مبلین | 533105 |
| استحلاک | 600000 |
| خام مواد | 7872261 |
| پرزه جات | 97500 |
| ټول لګښت (افغانۍ) | 12640276 |

**په ۱۳۹۸ کال کې د حجارۍ او نجارۍ فابریکې ثابت او غیري ثابت لګښتونه:**

په ۱۳۹۸ کال کې د حجارۍ او نجارۍ فابریکې ټول لګښتونه (۱۲٦۴۰۲۷٦) افغانۍ دي چې په دې کښې خام مواد (۷۸۷۲۲٦۱)، د کارکوونکو معاشات (۳۵۳۷۴۱۰)، تېل او مبلین (۵۳۳۱۰۵)، استهلاک (٦۰۰۰۰۰)، پرزه جات (۹۷۵۰۰) افغانۍ لګښت وربانديږ راغلی دی

**۲ جدول: د حجارۍ او نجارۍ فابریکې ثابت او غیري ثابت لګښتونه (۱۳۹۸)**

| د ۱۳۹۹ کال لګښتونه | |
|---|---|
| د کارکوونکو معاشات | 2860143 |
| تېل او مبلین | 188111 |
| استحلاک | 400000 |
| خام مواد | 4250261 |
| پرزه جات | 1222621 |
| ټول لګښت (افغانۍ) | 8921136 |

**سرچینه: د حجارۍ او نجارۍ فابریکې مالي او اداري شعبه**

**په ۱۳۹۹ کال کې د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ ثابت او غیري ثابت لګښتونه:**

په ۱۳۹۹ کال کې د حجارۍ او نجارۍ فابریکې ټول لګښتونه (۸۹۲۱۱۳٦) افغانۍ وو چې په دې کښې تر ټولو زیاته سلنه خام مواد جوړوي چې (۴۲۵۰۲٦۱) افغانۍ کېږي، د کارکوونکو معاشات (۲۸٦۰۱۴۳) افغانۍ، پرزه جات (۱۲۲۲٦۲۱) افغانۍ، استهلاک (۴۰۰۰۰۰) افغانۍ او تېل او مبلین (۱۸۸۱۱۱) افغانۍ لګښت جوړوي.

**۳ جدول: د حجارۍ او نجارۍ فابریکې ثابت او غیر ثابت لګښتونه (۱۳۹۹)**

**سرچینه: د حجارۍ او نجارۍ فابریکې مالي او اداري شعبه**

**په ۱۴۰۰ کال کې د حجارۍ او نجارۍ فابریکې ثابت او غیري ثابت لګښتونه:**

د حجارۍ او نجارۍ مصارفاتو کې هر کال خام مواد او د کارمندانو معاشات تر ټولو لویه سلنه جوړوي، چې دوی دواړه تقریبا د حجارۍ او نجارۍ د لګښتونو ٪٦۰ کېږي. په ۱۴۰۰ کال کې د حجارۍ او نجارۍ فابریکې ټول لګښتونه (۱۰۰۳۳۲۳۸) افغانۍ وې چې په دې کښې تر ټولو زیاته سلنه خام مواد جوړوي چې (۵۴۱۴۷۲۱) افغانۍ کېږي، د کارکوونکو معاشات (۲۸۹۴۲۵۲) افغانۍ، پرزه جات (۱۰۴۰۵۷۸) افغانۍ، استهلاک (۴۰۰۰۰۰) افغانۍ او پر تېلو او مبلینو (۲۸۳٦۸۷) افغانۍ لګښت راغلی دی.

**۴ جدول: د حجارۍ او نجارۍ فابريکې ثابت او غيري ثابت لګښتونه په (۱۴۰۰) کال کې**

| لګښتونه | 1400 | 1399 | 1398 |
|---|---|---|---|
| د کارکوونکو معاشات | 2894252 | 2860143 | 3537410 |
| تېل او مبلین | 283687 | 188111 | 533105 |
| استهلاک | 400000 | 400000 | 600000 |
| خام مواد | 5414721 | 4250261 | 7872261 |
| پرزه جات | 1040578 | 1222621 | 97500 |
| ټول لګښتونه (افغانۍ) | 10033238 | 8921136 | 13801429 |

**سرچينه: د حجارۍ او نجارۍ فابريکې مالي او اداري شعبه**

**د حجارۍ او نجارۍ فابريکې د لګښتونو پرتله (۱۴۰۰-۱۳۹۸):**

د حجارۍ او نجارۍ فابريکې د ۱۳۹۸، ۱۳۹۹ او ۱۴۰۰ کلونو لګښتونه په لاندې جدول کې ښودل سوي دي.

**۵ جدول: د حجارۍ او نجارۍ فابريکې د لګښتونو پرتله (۱۴۰۰-۱۳۹۸):**

**د حجارۍ او نجارۍ فابريکې خالص عوايد:**

په ۱۳۹۸، ۱۳۹۹ او ۱۴۰۰ کلونو کې د حجارۍ او نجارۍ فابريکې ټول عوايد په ترتيب سره (۱۴۳۲۹۱۲۹)، (۹۵۳۱۰۱۳) او (۱۰۲۳۰۴۲۲) افغانۍ دي او په پورته کلونو کې د دې فابريکې لګښت (۱۳۸۰۱۴۲۹)، (۸۹۲۱۱۳۶) او (۱۰۰۳۳۲۳۸) افغانۍ کېږي او همدارنګه د دې فابريکې خالصه ګټه په ترتيب سره (۵۲۷۷۰۰)، (۶۰۹۸۷۷) او (۱۹۷۱۸۴) افغانۍ ده (۷ شکل).




**۷ شکل: د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ خالصه ګټه**

**په هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ فابريکې د سواټ SWOT Analysis تحليل:**

**۱. قوتونه:**

په هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ فابريکې قوي نقطې په لاندې ډول سره دي.

- **د مسلکي کارمندانو درلودل**
- **په لوړ کيفيت توليدات وړاندې کول**
- **خامو موادو ته پوره لاسرسی**

په هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ فابريکې تر ټولو قوي نقطه د مسلکي کارمندانو درلودل دي چې په ډېر لوړ ارزښت سره په دې تصدۍ کې په کم امتياز کار کوي، خامو موادو ته لاسرسی هم د دې تصدۍ بله قوي نقطه ده (۸ شکل).

| د ۱۴۰۰ کال لګښتونه | |
|---|---|
| د کارکوونکو معاشات | 2894252 |
| تېل او مبلین | 283687 |
| استحلاک | 400000 |
| خام مواد | 5414721 |
| پرزه جات | 1040578 |
| ټول لګښت (افغانۍ) | 10033238 |




۸ شکل: د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ قوي ټکي

### ۲. ضعیفي نقطې:

- **د داخلي بازار نشتوالی**

د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ یوه کمزوري نقطه د بازار نشتوالی دی، ځکه چې د حجارۍ او نجارۍ داسې محصولات بازار ته وړاندې کوي چې د عامو خلکو د خرید تر توان لوړ دي، په همدې اساس خلګ نه سي کولای چې په عام ډول د حجارۍ او نجارۍ محصولات رانیسي. د ضعف نقطه یې هم داده چې تر نورو داخلي بازارونو پوري د حجارۍ او نجارۍ توکي نه دي رسیدلي چې دا برخه (۳۰) جوړوي.

- **بهرني بازارونو ته نه لاسرسی**

د حجارۍ او نجارۍ (۳۰) سلنه کمزوري داده چې بهرني بازارونو ته لاسرسی نه لري او تر اوسه پوري د دې تصدۍ توکي بهرني هیوادونو ته نه دي صادر سوي او یا هم ډېره کمه سلنه یې نورو هیوادونو ته د خامو موادو په توګه صادریږي. او یا هم په غیرې قانوني توګه مرمر او روخام ګاونډیو هیوادونو ته صادریږي.

- **یوازي د لوکس توکو تولید**

د حجارۍ او نجارۍ (۲۰) سلنه کمزوري داده چې یوازي لوکس توکي تولیدوي چې د عامو خلګو تر توان لوړ دي. یوازي د لوکسو توکو تولید د حجارۍ او نجارۍ فابریکې ګټه کمه کړې ده.

- **د کندهار تراش لرګیو ته نه لاسرسی**

د حجارۍ او نجارۍ بله کمزوري نقطه د کندهار تراش لرګیو ته نه لاسرسی دی چې (۲۰) سلنه جوړوي (۹ شکل).




۹ شکل: د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ ضعیفي نقطې

### ۳. په هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ لپاره فرصتونه:

- **ارزانه بشري قوه**

په هلمند کې بشري قوه نهایت زیاته ده، په ډېر لږ مزد خلګ د تولیدي او خدماتي تصدیو سره کار کوي، دا د حجارۍ او نجارۍ فابریکې لپاره (۲۵) سلنه فرصت دی چې کولای سي په ډېر کم مصرف سره ډېر کارمندان په دندو وګماري.

- **د رقابت نشتوالی:**

په هلمند کې تر دې مهاله بله د ډېرو د صنعت تصدۍ فعالیت نه لري چې دا د حجارۍ او نجارۍ فابریکې لپاره یو فرصت دی چې په یوازي ځان د هلمند او شاوخوا ولایتونو ته خدمات وړاندې کوي چې د رقابت نشتوالی د حجارۍ او نجارۍ لپاره (۲۵) سلنه فرصت ایجاد کړی دی.

- **پریمانه طبیعي زیرمې**

په هلمند کې د حجارۍ اونجارۍ لپاره (۵۰) سلنه فرصت طبیعي زیرمو او خامو موادو ته پوره لاسرسی دی، چې د حجارۍ او نجارۍ فابریکې خام مواد د داخل هلمند څخه پریمانه تر لاسه کیږي (۱۰ شکل).




۱۰ شکل: د حجارۍ او تجارۍ تصدۍ فرصتونه

**۴. په هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ په وړاندې تهدیدونه:**

په هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ فابریکې پر وړاندې دوه عمده خنډونه او تهدیدونه شتون لري چې په لاندې ډول سره دي.

- **نا امني**
- **د ۲۴ ساعته برق نه شتون**

هلمند د طبیعي زېرمو له اړخه خورا غني ولایت دی چې پریمانه طبیعي زېرمې لري او د طبیعي زېرمو په اساس په هلمند کې تصدی ښه فعالیت کولای سي او دا د تصدیو لپاره یو فرصت دی، خو د فرصتونو تر څنګ خنډونه هم سته چې د تصدیو لپاره ستونزې جوړوي.

- **نا امني**

په هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ فابریکې لپاره (۵۰) سلنه خنډ نا امني ده، ځکه چې د نا امنۍ له امله د حجارۍ او نجارۍ فابریکه نه شي کولای چې په اسانه توګه خام مواد تر لاسه کړي او په تولید یې ورسوي.

- **۲۴ ساعته برق نه شتون**

د صنعت لپاره تر ټولو بنسټیز څيز د برق شتون دی، هلمند چې د برق ډېر فرصتونه هم لري خو بیا هم هلمند کې برق نسته او یا په ډېره کمه فیصدۍ سره سته، چې د برق نه شتون د حجارۍ او نجارۍ لپاره (۵۰) سلنه خنډ دی (۱۱ شکل).




**۱۱ شکل: د حجارۍ او نجارۍ تصدۍ تهدیدونه**

**د حجارۍ او نجارۍ پر وړاندې ستونزې:**

حجارۍ او نجارۍ تصدۍ په هلمند کې درې عمده ستونزې لري، چې په ټولیزه توګه (۴۰) سلنه نا امني، (۵۰) سلنه د بریښنا نه شتون او (۱۰) سلنه د ترانسپورټ ستونزه ده (۱۲ شکل).




**۱۲ شکل: د حجارۍ او نجارۍ پر وړاندې ستونزې**

په ۱۳۹۸، ۱۳۹۹ او ۱۴۰۰ کلونو کې د حجارۍ او نجارۍ په وړاندې د ستونزو پرتله په (۱۲ شکل) کې ښودل سوې ده.




**۱۳ شکل: د ۱۳۹۸ – ۱۴۰۰ کال پورې د ستونزو کچه**

نړیوالو او سیمه ییزو بازارونو ته په کتلو سره دا معلومه سوې ده چې د افغان مرمر د صادراتو پراخ فرصتونه لري که چېرې شرایط ورته مساعد سي. په ۲۰۱۲ م کال کې د عبدالغفور راسین په نوم د یوه محصل له لوري د افغانستان د مرمرو پر صنعت یوه څېړنه تر سره سوې وه، په څېړنه کې د افغانستان د مرمر ډېرو مارکیټ د مارکیټ جوړښت او فعالیت له مخې مطالعه سوی، د پانګوالو احتمالي فرصتونو ته کتنه کړې، د بازار د ناکامیو خنډونو عوامل په ګوته کړي او په پای کې د دې صنعت د ودې لپاره ځینې اقدامات او وړاندیزونه کړي. څېړنه ښیي چې نړیوالو او سیمه ییزو بازارونو ته په کتلو سره معلومه سوه چې د افغان مرمر د صادراتو پراخ فرصتونه سته. افغانستان له پاکستان سره په مقایسه کولو سره، په څېړنه کې یو په زړه پورې حقیقت موندل سوی سره له دې چې پاکستان د افغانستان په پرتله د مرمرو کم کیفیت او کم مقدار لري، د مرمر ډېرو صنعت د شرکتونو د شمېر، د تولیداتو کچه، د صادراتو ارزښت، له همدې امله، په دې کې شک نه شته چې په افغانستان کې د مرمرو صنعت د ودې ښه ظرفیت لري که چېرې بازار او بنسټیز خنډونه لیرې سي. نوموړې څېړنه وړاندوینه کوي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې به په افغانستان کې د مرمرو صنعت پنځه چنده وده وکړي که د بازار لوی خنډونه له منځه یوړل سي (Rassin, 2012).

**پایله**

- د حجاری او نجاری تصدی په ۱۳۴۱ کال کي د محمد ظاهر شاه په پاچاهي کښې د امریکا د متحده ایالاتو په مالي مرسته جوړه سول چي په دې تصدی کي سلگونو کسانو ته د کار زمینه برابر وه، په 1386 کال کي د جمهور رئیس د ( 1550 ) گڼه فرمان په اساس په مختلط ډول د (۵۱) سلنه خصوصي او (۴۹) سلنه د دولت په سهم اوسرمایه کار او فعالیت پیل کړ، د حجاری په شاپ کی د ډبرو څخه 105 نوع قسم قسم اجناس لوښي، لوحې او د ډبرو تختيې، فرنېچر تولیدیږي، په دې تصدی کي ۳۹ تنو ته په مستقیم او ۴۲ تنه په غیري مستقیم ډول کار کوي.
- د حجاری او نجاري تصدی (۵۰) سلنه عواید د متفرقه عوایدو څخه، (۲۵) سلنه د فرنېچر او (۲۵) سلنه د ډبرینو توکو د پلور څخه تر لاسه کوي. په ۱۳۹۸ کال کي د حجاری او نجاری عواید ۱۴۳۲۹۱۲۹ میلیونه. او په ۱۳۹۹ کال کي عواید ۹۵۳۱۰۱۳ میلیونه او په ۱۴۰۰ کال کي عواید ۱۰۲۳۰۴۲۲ میلیونه افغانیو ته رسیږي، چي په ۱۳۹۸ کال کي ټول مصرف ۱۳.۸ میلیونه افغانی چي تر ټولو لوړ مصرف خام مواد ۷.۸ میلیونه افغانی وې، د کارمندانو معاشات ۳.۵ میلیونه وې په ۱۳۹۹ کال کي د حجاری او نجاری ټول لگښت ۸.۹ میلیونه افغانی وې چي ۴.۲ میلیونه لگښت پر خامو موادو ، ۲.۹ د کارمندانو پر معاشاتو وې. په ۱۴۰۰ کال کي ټول لگښت ۱۰ میلیونه چي پر خامو مواد ۵.۴ میلیونه او د کارمندانو پر معاشاتو باندي ۲.۸ میلیونه لگښت راغلی.
- په ۱۳۹۸ کال کي د حجاری او نجاری ټول عاید ۱۴۳۲۹۱۲۹ میلیونه او لگښت ۱۳۸۰۱۴۲۹ میلیونه افغانی وې چي خالصه گټه په دې کال کي ۵۲۷۷۰۰ زره افغانی ده. په ۱۳۹۹ کال کي عاید ۹۵۳۱۰۱۳ میلیونه او لگښت یې ۸۹۲۱۱۳۶ میلیونه وو چي خالصه گټه په دې کال کي ۶۰۹۸۷۷ زره افغانی وه، په ۱۴۰۰ کال کي عاید ۱۰۲۳۰۴۲۲، لگښت ۱۰۰۳۳۲۳۸ میلیونه او خالصه گټه په دې کال کي ۱۹۷۱۸۴ زره افغانی دو.
- د حجاری او نجاری (۵۰) سلنه قوي نقطه خامو موادو ته پوره لاسرسی (۲۵) سلنه قوي نقطه په لوړ کیفیت تولید او (۲۵) سلنه قوي نقطه د مسلکي کارمندانو درلودل دي، (۳۰) سلنه کمزورې نقطه داخلي بازار نه درلودل، (۳۰) سلنه بهرني بازار ته نه لاسرسی دی، (۲۰) سلنه یوازي د لوکسو توکو تولید او (۲۰) سلنه د کندهار تراش او نورو وطني لرگیو ته نه لارسی دی. د دې فابریکې لپاره (۲۵) سلنه فرصت په کم مصرف د کارمندان گمارل، (۲۵) سلنه د رقابت نشتوالی او (۵۰) سلنه فرصت طبیعي زیرمو او خامو موادو ته پوره لاسرسی دی، همدارنگه (۵۰) سلنه نا امني او (۵۰) سلنه د بریښنا نشتوالی د دې تصدی لپاره خنډ دی.

**وړاندیزونه**

1. د ډبرو صنعت په نړی کي ډیر لوی کاروبار دی، هلمند ډېري قیمتي ډبري لري که په دې برخه کي پانگونه وسي، هلمند کي کېدلای سي چي د ډبرو صنعت وده وکړي.
2. د هیواد په داخل کي د پانگوني د جلب او جذب په موخه پر بنسټیزو زیربناوو لکه بریښنا او لویو لارو تاسیسات رغولو باندي پانگونه کول.
3. د داخلي تصدیو د ملاتړ په موخه پر بهرنیو ورته محصولاتو باندي لوړ گمرکي محصولات وضع کول تر څو داخلي تولیداتو ته بازارموندنه وسي.
4. د داخلي پانگوالو د تشویق په موخه دولت باید وخت پر وخت داخلي تصدیو ته سبسایډی ورکړي تر څو داخلي صنعت وده وکړي.

## اخځليکونه

1. ژمن، محمد شفيق، (۱۳۹۳) ، هلمند، لمړی چاپ، کندهار، نارنج خپروندويه ټولنه
2. عطايي، محمدابراهيم، 1398، هلمند د کلتور په ساحه کي، لومړی چاپ
3. همت، عبدالولي، ۱۳۹۸،د هلمند ولايت پروفايل، اقتصاد رياست
4. Ahmad, S. (2019). Marble Industry Role in the Socio Economic Development of Marble Industrial Owners of District Mohmand Federal Administered Tribal Area-Pakistan. Industrial Engineering Letters, 9(3). https://doi.org/10.7176/iel/9-3-1.
5. Global Marble Market Overview with Detailed Analysis, Competitive landscape, Forecast 2023 to 2030| 127 Pages Report. (2022, March 13). Www.linkedin.com. https://www.linkedin.com/pulse/global-marble-market-overview-detailed-analysis
6. Haggag, F. A. (2012). Economic and financial valuation of the marble industry in Egypt. Theses and Dissertations. https://fount.aucegypt.edu/etds/901/
7. Kandil, A. I., & Selim, T. H. (2011). Characteristics Of The Marble Industry In Egypt: Structure, Conduct, And Performance. International Business & Economics Research Journal (IBER), 5(3). https://doi.org/10.19030/iber.v5i3.34668. Khan, I. A., Rehan, R., Shahzada, K., Ahmad, M. I., & Shah, A. (2022). Critical Analysis of Multi Sectoral Policies related to Marble Industry in Pakistan. Mehran University Research Journal of Engineering and Technology, 41(1), 180–194. https://doi.org/10.22581/muet1982.2201.18.
8. Noormel, M. Z. (2019). THE ANALYSIS OF MARBLE INDUSTRY IN AFGHANISTAN, CASE STUDY OF NANGARHAR PROVINCE. International Journal of Engineering Applied Sciences and Technology, 04(05), 82–87. https://doi.org/10.33564/ijeast.2019.v04i05.012.
9. Quintas, A. (2017). The role of marble between as an economic resource and cultural uses in the industrial tourism context. Www.academia.edu. https://www.academia.edu/89046450/The_role_of_marble_between_as_an_economic_resource_and_cultural_uses_in_the_industrial_tourism_context.
10. Singh, M., Choudhary, K., Srivastava, A., Singh Sangwan, K., & Bhunia, D. (2017). A study on environmental and economic impacts of using waste marble powder in concrete. Journal of Building Engineering, 13, 87–95. https://doi.org/10.1016/j.jobe.2017.07.009.
11. Tabesh, D. (2012). A COMPREHENSIVE STUDY OF MARBLE INDUSTRY IN AFGHANISTAN. Www.academia.edu. https://www.academia.edu/4890522/A_COMPREHENSIVE_STUDY_OF_MARBLE_INDUSTRY_IN_AFGHANISTAN.

# Economic value, Problem and SWOT Analysis of Stone and Woodworking Factory of Helmand Province

Dr. Ali Ahmad*[1], Naqibullah Mujadidi[2] and Arsalan Watandar[3]

[1]Assistant Professor, Department of Agricultural Economics and Extension, Agriculture Faculty, Helmand University

[2]Assistant Professor, Department of Horticulture, Agriculture Faculty, ANATU, Kandahar

[3]Teaching Assistant, BBA Department, Economics Faculty, Bost University

Corresponding Author Email: aada.aliahmad@gmail.com

## Abstract

This research has been done on the economic value of Stone and Woodworking Factory in Helmand Province 1400 Year.The main purpose of the research is to clarify the revenue and expenditure of Stone and Woodworking Factory, SWOT analysis and the economic value of this enterprise. The research shows that the Stone and Woodworking Factory was established in the year 1341 during the reign of Mohammad Zahir Shah with the financial assistance of the United States. This enterprise receives 50% of their income from miscellaneous income, 25% from the sale of furniture and 25% from the sale of stone products. The study indicates that in 2018, the total income of this enterprise was 14329129 million and the cost was 13801429 million Afghanis, the net profit of this year is 527700 thousand Afghanis. In 1399, the income was 9531013 million and the cost was 8921136 million, the net profit is 609877 thousand Afghani this year, in 1400 the income is 10230422, the cost is 10033238 million and the net profit is 177184 thousand Afghani this year. The findings of this research state that 50% of the strong point of the enterprise is full access to raw materials, 25% of the strong point is high quality production and 25% of the strong point is having professional employees. 30% weak point is lack of domestic market, 30% weak point is lack of access to foreign market and also 20% weak point is only luxury goods production and 20% weak point is lack of access to Kandahar wood and other native woods. 25% opportunity for this factory is to hire employees at low consumption, 25% lack of competition and 50% opportunity is full access to natural resources and raw materials, also 50% insecurity and 50% lack of electricity is an obstacle for this enterprise.

**Keywords:** Stone and Woodworking Factory, Cost, Gross returns, Net returns and Problems

# BOST

Academic & Research National Journal

| Volume | Issue | Year |
| --- | --- | --- |
| 2 | 2 | 2024 |